د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 24 اپريل، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 6 ذو القعده، کال 1447ھ) د جُمعَةُ المبارک

## قرآني بيان

پۀ نوم

# د بدۍ پيشوا مۀ جوړيږئ!

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- پۀ سُنَّت باندې د عمل کولو پۀ برکت يې بخښنه نصيب شوه
- شروع د يو نه کيږي
- پۀ حوض باندې اُلټا رازوړند شوے اِنسان (واقعه)
- د اِنسان نه سويا ځنګه جوړه شوه---؟ (واقعه)

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُالْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡکَ یَا رَسُوۡلَ اللّٰہ    وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصۡحٰبِکَ یَا حَبِیۡبَ اللّٰہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡکَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ    وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصۡحٰبِکَ یَا نُوۡرَ اللّٰہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُود شريف فضيلت

قَالَ رَسُوۡلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَ آلِہٖ وَسَلَّم: مَنۡ صَلّٰی عَلَیَّ بَلَغَتۡنِیۡ صَلَاتُہٗ وَصَلَّیۡتُ عَلَیۡہِ وَکُتِبَ لَہٗ سِوٰی ذٰلِکَ عَشۡرُ حَسَنَاتٍ۔

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** پهٔ ما باندې د درود لوستونکي درود ما ته رارسيږي او زهٔ د هغهٔ د پاره دُعا کووم، د دې نه علاوه د درود لوستونکي د پاره 10 نيکئ هم ليکلے کيږي-(1)

ہے کرم ہی کرم کہ سنتے ہیں | آپ خوش ہو کے بار بار درود(2)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!    صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د درودِ پاک د وئيلو ډير زيات فضيلتونه دي خو د دې فضيلت خبره جُدا ده، کوم اِنسان چې درود شريف لولي، رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغهٔ د پاره دُعا فرمائي- واه! سُبۡحٰنَ اللّٰہ! تاسو ته معلومه ده چې **د دغې دُعا برکتونه څهٔ دي؟** ❀ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ دُعا سره بختونه رابيداريږي ❀ افتونه بلاګاني لرې کيږي ❀ مشکلات حل کيږي ❀ وراني

---

1 ... معجم اوسط، من اسمه احمد، جلد:1، صفحه:446، حديث:1642۔

2 ... ذوقِ نعت، صفحه:125۔

ودانيږي ❁ دُنيا او اخرت ښۀ کيږي، آؤ! آؤ! هُم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا وه ❁ د کومې پۀ برکت چې سپوږمۍ دوه ټوټې شووه ❁ پريوتے نمر راواپس شو ❁ د دې دُعا پۀ برکت سره مړي راژوندي کيږي ❁ د زړونو راندۀ هدايت مومي او سُبْحٰنَ الله! د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُعا څومره ښکلے شان دے--!! رَبِّ کريم فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ ؕ<br>(پاره:11، سورۀ التوبه:103) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او (اے حبيبه!) د هغوئي پۀ حق کښې د خير دُعا اوکړه، بے شکه ستا دُعا د هغوئي د زړۀ سکون دے- |

د چا چا د زړۀ سکون پکار دے! څوک څوک خپلې ورانې ودانول غواړي؟ څوک څوک چې د دُنيا او د اخرت د خيرونو طلبګاران دي؟ يقيناً چې مونږ ټول يو- دې د پاره څۀ کول دي؟ ډير اسان کار--!! دُرُودِ پاک لولئ! مونږ چې د دُنيا پۀ هر کوټ کښې ناست يو او درودِ پاک لولو، زمونږ درود دربارِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته رسيږي او حُضُورِ اَکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: وَصَلَّيْتُ عَلَيْهِ څوک چې پۀ ما باندې درود لولي، زۀ د هغۀ د پاره دُعا کووم-

| | |
|---|---|
| اس جوابِ سلام کے صدقے! | تا قیامت ہوں بے شمار سلام |
| میری بگڑی بنانے والے پر | بھیج اے کِردِگار سلام |
| اس پناہِ گنہگاراں پر | یہ سلام اور کروڑ بار سلام (1) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1 ... ذوقِ نعت، صفحہ:171170 ملتقطًا-

قَالَ اللّٰہُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی فِی الْقُرْاٰنِ الْكَرِيْم (الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي):

وَ اٰمِنُوْا بِمَاۤ اَنْزَلْتُ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ وَ لَا تَكُوْنُوْۤا اَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهٖ۪ وَ لَا تَشْتَرُوْا بِاٰیٰتِیْ ثَمَنًا قَلِیْلًا٘ وَّ اِیَّایَ فَاتَّقُوْنِ۝۴۱ (پاره: 1، سورۂ البقرة: 41)

صَدَقَ اللّٰہُ الْعَظِیْم وَصَدَقَ رَسُوْلُہُ النَّبِیُّ الْكَرِیْم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او اِیمان راوړئ پۀ هغه (کتاب) چې ما نازل کړے دے هغه ستاسو سره د موجود کتاب تصدیق کوونکے دے او د ټولو نه مخکښې د هغې اِنکار کوونکي مۀ جوړیږئ او زما د آیتونو پۀ بدله کښې لږ نرخ [قیمت] مۀ وصولوئ او صرف زما نه ویریږئ۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د آیت مبارک شانِ نزول

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږ د وړومبۍ سیپارې د سورۀ بقره د آیت: 41 د اوریدو سعادت حاصل کړو، پۀ دې آیت مبارک کښې د بني اِسرائیلو علماؤ ته خطاب دے، دلته هغوئي ته د 4 خبرو حکم ورکړے شوے دے، راځئ چې د دې آیت مبارک شانِ نزول واورو، بیا پۀ دې آیت د ځان پوهه کولو او د دې نه د زدکړې د سبق اوریدو سعادت حاصل کړو۔

د تفسیر علماؤ لیکلي دي چې کَعب بِن اَشرَف (کوم چې د بني اِسرائیلو لوئي عالِم وو) او د هغوئي نورو ملګرو به د خپل قوم د جاهلانو نه پیسې اخستې او د هغوئي پۀ پیداوار کښې یې خپلې حصې مقرر کړې وې، کله چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف راوړلو نو د هغوئي سره فِکر شو پۀ تورات شریف کښې چې د حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کوم نعت (یعني د هغوئي صفتونه او فضیلتونه) موجود دي، که چرې مونږ دا ښکاره کړو نو زمونږ قوم به هم پۀ هغوئي باندې اِیمان راوړي۔ داسې به زمونږ دا امدن

بند شي- ځکه هغوئي تورات بدل کړو او چې کله به خلقو د هغوئي نه پوښتنه کوله چې پۀ تورات کښې د نبي آخرُ الزّمان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څۀ صفتونه دي نو هغوئي به پټول او خلقو ته به يـې نۀ بيانول- (1)

پۀ تفسير رُوح البيان کښې دي: يو ځل کعب بن اَشرف د بني اِسرائيلو د علماؤ نه پوښتنه اوکړه چې تاسو د مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) پۀ باره کښې څۀ وايئ؟ (دا د يو شخصي مجلس وو، ټول پۀ خپل مينځ کښې ناست وو، ځکه) هغوئي رښتيا بيان کړۀ او وه يـې وئيل: بے شکه هغه رښتونے نبي دے- پۀ دې باندې کعب بن اَشرف ووئيل: که تاسو د دې نه علاوه بل څۀ جواب راکړے وے نو ما به تاسو ټولو له اِنعامونه درکړي وو- بيا هم هغه عالمان کومو چې وړومبے رښتيا وئيل، د هغوئي پۀ زړونو کښې لالچ راغلو او وه يـې وئيل: مونږ بغير د سوچ نه جواب درکړو، مونږ پۀ دې باره کښې لږ تحقيق ته پرېږده! کعب ووئيل: ښۀ سوچ اوکړئ! بيا دا ټول د هغه ځائے نه لاړل او پۀ تورات شريف کښې چې د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوم صفتونه بيان شوي وو، هغه يـې د تورات نه ويستل! او د هغې پۀ ځائے چې د دجال کوم صفتونه پۀ تورات کښې وو، هغه يـې پۀ حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پورې وتړل- بيا د هغوئي دا د ځانه جوړ کړے شوے جواب چې کله کعب واوريدو نو هغۀ هر يو عالِم (کوم چې پۀ حقيقت کښې جاهلان وو، هغوئي) له اِنعامونه ورکړل! پۀ دې موقع باندې دا آيت مبارک نازل شو، الله پاک هغوئي ته د اِيمان راوړو حکم اوکړو او وه يـې فرمائيل: (2)

| | |
|---|---|
| وَ اٰمِنُوْا بِمَاۤ اَنْزَلْتُ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ (پاره:1، سورۂ البقرة: 41) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او اِيمان راوړئ پۀ هُغه (کتاب) چې ما نازل کړے دے هغه ستاسو سره د |

1…تفسير خازن، پاره:1، سورۂ بقرة، زير آيت:41، جلد:1، صفحه:41 مفصلًا-

2…تفسير روح البيان، پاره:1، سورۂ بقرة، زير آيت:41، جلد:1، صفحه:121-

موجود کتاب تصدیق کوونکے دے-

یعنې اے د بني اِسرائیلو عالِمانو--!! پۀ دې قرآن والا خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې، د هغوئي پۀ راوړے شوي اسماني کتاب قرآنِ مجید باندې، د هغوئي پۀ ټولو معجزو باندې اِیمان راوړئ! وړومبے خو پۀ دې وجه باندې چې د مخکښینو کتابونو او رسولانو پۀ شان دا هم زمونږ نازل کړے شوے کتاب دے- دویم دې د پاره چې دا کتاب قرآنِ مجید او زمونږه خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ستاسو د کتابونو تصدیق کوونکې دې - ستاسو پۀ کتابونو کښې دا لیکلے شوي دي، ستاسو نبیانو تاسو ته دا وئیلي دي چې ❁ د دې شکل او شباهت والا ❁ د داسې اعلیٰ اخلاقو او صفتونو والا ❁ د داسې اعلیٰ خوبیانو والا ❁ پۀ مکه کښې تشریف راوړونکے او د مدینے طرف ته هجرت کوونکے ❁ ښه کارونه ښودونکے ❁ نیغه لاره ښودونکے ❁ ربښتوني خبره ښودونکے ❁ د توحید سبق ښودونکے ❁ کُفر او ګمراهي ختموونکے ❁ د رحمان د طرف نه قرآن راوړونکے ❁ مړاوي غوټۍ غوړودونکے ❁ د فرش نه پۀ عرش باندې حکومت کوونکے ❁ د عربو دصحرا نه ټول جهان لیدونکے محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف راوړونکے دے- اوس چې کله زمونږ خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف راوړلو، د الله پاک د طرف نه پۀ هغوئي باندې قرآن نازلیږي، بس د هغوئي پۀ راتللو او پۀ قرآن بیانولو سره ستاسو د کتابونو ربښتنولي ثابته شوه چې پۀ هغه کتابونو کښې چې څۀ وئیلے شوي وو، بالکل هم هغه شان وشول- لهذا پۀ خپلو کتابونو باندې پۀ پوره توګه د اِیمان راوړو د پاره زمونږ د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کلمه ولولئ او د هغوئي د کرم جولۍ ته داخِل شئ!

وَلَا تَكُوْنُوْٓا اَوَّلَ كَافِرٍۢ بِهٖ ۖ
(پاره: 1، سورۀ البقرة: 41)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د ټولو نه مخکښې د هغې اِنکار

کوونکي مۀ جوړيږئ۔

د آيت مبارک د دې حصې يوه معنىٰ علمائے کرامو دا بيان کړې ده چې اے د بني اِسرائيلو عالمانو! ❁ نن تاسو زمونږ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خپلو سترګو باندې وينئ ❁ ستاسو پۀ مخکښې معجزې ښکاره کيږي ❁ قرآن تاسو ته بيانولے کيږي ❁ ځناور دلته سجدې کوي، تاسو نۀ وينئ ❁ ونې، کاڼي هغوئي ته سلام کوي، تاسو نۀ وينئ، د دې هر څۀ باوجود که چرې تاسو کلمه نۀ وائئ نو سبا ستاسو راتلونکي نسلونه به پۀ تاسو پسې درځي، ستاسو د اِنکار پۀ وجه به هغوئي هم د اِسلام نه محرومه پاتې شي، بيا قاعده دا ده چې د هغوئي د کُفر ګناهونه به هم ستاسو پۀ سر راځي، څکه عقلمند جوړ شئ! نن کلمه وايئ! او د خپلو راتلونکو نسلونو د اِيمان سبب جوړ شئ! (1)

| | |
|---|---|
| وَلَا تَشۡتَرُوۡا بِاٰیٰتِیۡ ثَمَنًا قَلِیۡلًا ۫ (پاره: 1، سورۀ البقرة: 41) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او زما د آيتونو پۀ بدله کښې لږ نرخ [قيمت] مۀ وصولوئ۔ |

يعني پۀ لالچ کښې مۀ راځئ! د دُنيا د سپک دولت د پاره د اِيمان نه پۀ محرومه کيدو د اخرت د هميشه والا ډير سخت عذاب حقدار مۀ جوړيږئ! (2)

| | |
|---|---|
| وَّ اِیَّایَ فَاتَّقُوۡنِ ﴿۴۱﴾ (پاره: 1، سورۀ البقرة: 41) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او صرف زما نه ويريږئ۔ |

يعني ❁ خلق به څۀ وائي؟ ❁ ستاسو عهدې به لاړې شي ❁ ستاسو امدن به بند شي، د

[1] ... تفسير کبير، پاره: 1، سورۀ بقرة، زير آيت: 41، جلد: 1، صفحه: 484 خلاصةً۔

[2] ... تفسير نعيمى، پاره: 1، سورۀ بقرة، زير آيت: 41، جلد: 1، صفحه: 333332 خلاصةً۔

دېِ تېولو خبرو ويره پۀ زړۀ کښې مۀ راولئ! صرف او صرف هم د الله پاک نه ويريږئ--!! [1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د آيت مبارک نه د زدکړې سبقونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا د دې آيت مبارک مختصر وضاحت وو، راځئ چې د دې آيت مبارک نه د زدکړې يو څو سبقونه هم واورو:

## (1): پۀ سُنَّت باندې د عمل کولو ترغيب

د ټولو نه وړومبے خو دا غور اوکړئ چې الله پاک دې بني اِسرائيلو ته وفرمائيل:

| | |
|---|---|
| وَاٰمِنُوْا بِمَاۤ اَنْزَلْتُ (پاره: 1، سورۀ البقرۃ: 41) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او اِيمان راوړئ پۀ هُغه (کتاب) چې ما نازل کړے دے۔ |

علمائے کرام فرمائي چې پۀ دې ځائے کښې الله پاک دا نۀ دي فرمائيلي دي چې زمونږ پۀ قرآن باندې اِيمان راوړئ! بلکې فرمائيلي يې دي: څۀ چې ما نازل کړل، څۀ چې مۀ در وليږل پۀ هغې باندې اِيمان راوړئ! صوفيائے کرام پۀ دې ځائے کښې فرمائي: لکه څنګه چې قرآنِ کريم الله پاک راليږلے دے، دغه شان رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم الله پاک راليږلے دے او د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حديثونه هم وحي ده۔ پۀ دې حالت کښې به د آيت مبارک معنیٰ جوړيږي چې اے د بني اِسرائيلو عالمانو! پۀ قرآن باندې هم اِيمان راوړئ! زمونږ خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتونے نبي اومنئ! د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ هره يوه ادا باندې هم اِيمان راوړئ! [2]

---

[1]… تفسير نعيمی، پاره:1، سورۀ بقرۃ، زير آيت:41، جلد:1، صفحه:330 خلاصةً۔

[2]… تفسير نعيمی، پاره:1، سورۀ بقرۃ، زير آيت:41، جلد:1، صفحه:331 خلاصةً۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د دلته نه مونږ ته سبق ميلاؤ شو چې د رسولِ ذِيشان، مكي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ هره يوه ادا باندې اِيمان راوړل، هغه منل، هغه د زړۀ او ذِهن نه منل، دا هم د اِيمان حصه ده- ځکه مونږ له پکار دي چې د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هر فرمان او د هرې يوې ادا سره د زړۀ نه تعلق زيات کړو، د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هرې يوې ادا سره پۀ زړۀ کښې محبت زيات کړو، د دې پۀ برکت باندې به مو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيم! اِيمان پوخ شي، د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبت به مو زيات شي، د دې پۀ برکت سره به د اِيمان خوږ والے را نصيب شي او دُنيا او اخرت به مو ښه شي-

## د سُنَّت سره بے رغبتي لرونکے

رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: مَنۡ رَغِبَ عَنۡ سُنَّتِيۡ فَلَيۡسَ مِنِّيۡ يعني چا چې زما د سُنَّت نه مخ واړولو، هغه زما نه نۀ دے- (1)

پۀ يو روايت کښې دي: مَنۡ لَّمۡ يَعۡمَلۡ بِسُنَّتِيۡ فَلَيۡسَ مِنِّيۡ يعني څوک چې زما پۀ سُنَّت باندې عمل نۀ کوي، هغه زما نه نۀ دے- (2)

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: يعني څوک چې يو سُنَّت بد وګڼي، هغه د اِسلام نه خارج دے يا چې څوک بغير د څۀ وجهې د سُنَّت د پريښودو عادت جوړ کړي، هغه زما د پرهيزګارو د ډلې نه خارج دے- (3)

---

1 ... بخاری، کتاب النکاح، باب الترغیب فی النکاح، صفحه: 5063، صفحه: 1307۔

2 ... ابن ماجه، کتاب النکاح، باب ما جاء فی فضل النکاح، صفحه: 296، حدیث: 1846۔

3 ... مرآة المناجیح، جلد: 1، صفحه: 151۔

# پهٔ سُنَّت باندې د عمل کولو پهٔ برکت وبخښلے شو

اِمام شمسُ الدِّین محمد ذَهبي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ ليکلي دي چې علي بن حُسين رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ حضرت هِبَةُ الله طَبَرِي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ پهٔ خوب کښې وليدو او پوښتنه يـې ترينه اوکړه: مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ يعنې الله پاک ستاسو سره څهٔ معامله وفرمائيله؟ جواب يـې ورکړو: الله پاک زهٔ وبخښلم- عرض يـې اوکړو: پهٔ څهٔ وجه؟ نو هغوئي د رازدارۍ پهٔ انداز کښې ووئيل: د سُنَّتو پهٔ وجه-(1)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو وکتل چې پهٔ سُنَّتو باندې عمل کول د بخښنې ذريعه جوړه شوه- يقيناً چې کامياب او کامران دے هغه څوک چې د فرضو او واجبو د ادا کولو سره سره د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت اِختيار کړي- زمونږ پهٔ معمولاتو کښې ډير داسې کارونه دي، کوم چې که چرې د سُنَّت مطابق اوکړے شي نو مونږ د ثواب حقداران جوړيدے شو مثلاً ❀ د سُنَّت مطابق خوراک ❀ څښاک ❀ تلل ❀ راتلل ❀ اودهٔ کيدل ❀ راپاځيدل ❀ مسواک کول ❀ جامې اغوستل ❀ پيزار اچول او ويستل ❀ تيل لګول ❀ نوکان کټ کول ❀ خبرې کول وغيره، الله پاک دې مونږ ټولو ته د سُنَّت سره محبت راعطا کړي-

سُنّتوں سے بھائی رشتہ جوڑ تُو
نِت نئے فَیشن سے مُنہ کو موڑ تُو

خوب کر ذِکرِ خدا و مصطفےٰ
دِل مدینہ یاد سے اُن کی بنا

یاخدا! ہے اِلتجا عطار کی
سُنّتیں! اپنائیں سب سرکار کی (2)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]… سیر اعلام النبلاء، رقم: 3788، اللالکائی الامام ہبۃ اللہ بن الحسین بن منصور، جلد: 13، صفحہ: 270۔

[2]… وسائلِ بخشش، صفحہ: 715 ملتقطًا۔

## (2): د بدۍ پیشوا مهٔ جوړیږۍ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دې آیت مبارک نه چې بل سبق کوم مونږ ته د زده کولو د پاره میلاؤیږي، هغه د آیت مبارک پهٔ دې حصه کښې دے:

وَلَا تَكُوْنُوْٓا اَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهٖ ۪

(پارہ: 1، سورۂ البقرۃ: 41)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د تهولو نه مخکښې د هغې اِنکار کوونکي مهٔ جوړیږۍ۔

یعنې د قرآن، د دِینِ اِسلام، د محبوبِ ذِیشان صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وړومبني کافران مهٔ جوړیږۍ---!!

دا د غور خبره ده، دا چې کوم سوچ راکړے کیږي، د بني اِسرائیلو علماؤ ته چې د اِیمان د حکم کولو د پاره کوم طرف ته د هغوئي پام راګرځولے کیږي، یعنې هغوئي ته ووئیلے شو چې اے د بني اِسرائیلو علماؤ! نن که تاسو کُفر اوکړی، د کُفر پهٔ دې خپله رویه باندې کلک ودریږۍ نو دا یوه بدي خو ده، د دې سره سره پهٔ دې کښې د بدۍ یو بَل اړخ هم موجود دے، هغه دا چې نن تاسو که چرې کُفر کوۍ نو د دې کُفر پهٔ وجه ستاسو نسلونه هم خرابیدے شي، هغوئي به هم ستاسو پهٔ پل باندې پل ږدي [یعنې په نقشِ قدم ځي، بیا به د هغوئي د کُفر ګناه هم ستاسو پهٔ سر باندې راځي، ځکه نن د خپلو نسلونو فِکر هم اوکړئ! او نن چې تاسو اِیمان راوړئ، نن تاسو صحیح شئ نو د دې پهٔ برکت به ستاسو راتلونکي نسلونه هم صحیح شي---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دلته نه مونږ ته یوه رڼا میلاؤیږي، یو سبق د زدکړې د پاره میلاؤیږي، هغه دا چې نن مونږ ته څهٔ کول دي، مونږ چې پهٔ کومو فیصلو باندې عمل کوو، مونږ چې کوم عادتونه اِختیاروو، مونږ چې څهٔ پهٔ دې دُنیا کښې کوو، پهٔ دې هر څهٔ کښې مونږ ته د خپلو نسلونو خیال ساتل هم ضروري دي۔

# شروع د یو نه کیږي

یاد ساتئ چې بدي وي او که نیکي ، دا همیشه د یو ګس نه شروع کیږي، یو اِنسان د بدۍ لار اِختیار کړي، د هغې په وجه ټول نسلونه تباه شي، دغه شان یو ګس د نیکۍ لاره اِختیار کړي، د هغې په وجه نسلونه ښه شي- یو څو مثالونه عرض کووم: ❁ پخوا زمانه کښې به د یَمَن خلقو نمر خپل خُدائے منلو، د نمر عبادت به یې کولو، د دې ذِکر په قرآنِ کریم کښې، په سُورۀ نمل کښې، د ملکه بِلقِیس په واقعه کښې هم شوے دے، اوس کړۍ پیلل شروع کړئ! په یَمَن کښې د نمر عبادت د چرته نه شروع شوے وو، د دې ټول شِرک په شا مونږ ته یو ګس په نظر راځي او هغه وو: سَبَا اَکبَر- دې یو د نمر عبادت شروع کړو، بیا نسلونه په دې شِرک کښې اخته شول (1) ❁ دغه شان په عربو کښې شرک عام وو، د دې پورې چې د کعبې شریفې نه ګیر چاپیره 360 بُتان ایښودے شوي وو او خلقو به د هغې عبادت کولو، دا شِرک د چرته نه شروع شو؟ د یو ګس نه- عَمرو بِن لُحَي بدبخته وو، هغه په وړومبي ځل په عربو کښې شِرک شروع کړے وو، بیا دا بدي خوریده خوریده او په ټول عربو کښې خوره شوه- (2)

هم داسې وګورئ! ❁ د فارس یو ګس وو، نوم یې وو: زُوطِي- هغوئي یوه ښه فیصله اوکړه، د هغوئي په زړۀ کښې د اِیمان نُور وځلیدو، هغوئي کلمه ووئیله او اِسلام ته داخِل شو، بیا هغوئي خپل نوم نعمان کیښودو، دا د یو ګس ښه فیصله وه، بیا د هغوئي ټول نسل مسلمان شو (3) او رَبِّ کریم د هغوئي په نسل کښې یوه عظیمُ الشانه هستي پیدا کړه، د کوم چې نن په لکونو نهٔ بلکې په کروړونو منونکي دي، د هغوئي نوم دے نُعمَان بن ثَابِت او دُنیا هغوئي ته اِمامِ اَعظَم [رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه] وائي- وګورئ چې شروع د یو ګس نه وشوه،

[1]... المفصل فی تاریخ العرب قبل الاسلام، الفصل الثانی والستون، عبادة الکواکب، جلد:6، صفحه:55-

[2]... سیرة ابن ہشام، قصة عمرو بن لحی و ذکر اصنام العرب، جز:1، جلد:1، صفحه:56-

[3]... سیرت امام اعظم، صفحه:15-

بيا د هغوئي په وجه راتلونکي نسلونه هم بنه شول-
معلومه شوه چې که نيکي وي او که بدي، د دې شروع هم د يو کَس نه کيږي، دلته عام طور دا جمله وئيلے کيږي: **زمونږ پلار نيکونو به داسې کول-** نن سبا زمونږ په معاشره کښې په زرګونو رسمونه دي، په هغې کښې ښهٔ هم شته او بد هم او خلقو هغه اِختيار کړي دي، که ووئيلے شي چې دا بد رسمونه پريږده--!! نو وائي: **زمونږ پلار نيکهٔ به داسې کول**، اوس دا پلار نيکهٔ څوک دي؟ د دې چې لرې جاج واغتسے شي نو په اخر کښې به يو کَس ميلاؤيږي، کوم چې به دا رَسم شروع کړے وي، د اوسه پورې هُغه رَسم شروعِ دے، نسل په نسل هغه راچليږي- بالکل هم داسې نن چې کوم پلار دے، سبا به هغه نيکه وي، الله پاک دې زمونږ نسلونه سلامت لري، ننے پلار به سبا ډر نيکه هم وي، وَر نيکه به هم وي، بيا به راتلونکي نسلونه زمونږ مثال ورکوي او وائي به چې: زمونږ پلار نيکونو به داسې کول- اوس دا په مونږ فورې ده چې مونږ خپلو نسلونو له څهٔ ورکوو؟ هغه کوم يو کاروبار دے کوم چې مونږ خپل اولاد ته په ميراث کښې پريږدو، يو کَس د ګناهونو نه ډَک ژوند اِختياروي، په هغهٔ پسې نسلونه روانيږي او يو کَس که عالِمِ دِين جوړ شي نو د هغهٔ په نسلونو کښې به عالمان جوړيدل شروع شي-
اوس فيصله په مونږ ده، دا سوچ مونږ له کول دي چې مونږ د خپلو نسلونو د پاره په ميراث کښې څهٔ پريږدو- ياد ساتئ که چرې نن مونږه د خپلو نسلونو د پاره څهٔ بدي په ميراث کښې پريښودہ نو د څو پورې چې په هُغه بدئ باندې عمل کيږي، مونږ که قبر ته هم تلي يو، که زمونږ د قبر نوم او نشان هم نهٔ وي، د هُغې بدئ ګناه به زمونږ په اعمال نامه کښې ليکلے کيږي-

## چا چې بده طريقه رائج کړه

آؤ جي! دا په **حديثِ پاک** کښې دي: د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

فرمائيلي دي: چا چې پهٔ اِسلام کښې څهٔ ښه طريقه اِيجاد کړه نو د هغهٔ د پاره به د هُغه طريقې د اِيجاد کولو ثواب وي او د هغه نه پس چې کوم خلق پهٔ هُغه طريقه باندې عمل کوي، د هغوئي ثواب به هم هُغه (اِيجاد کوونکي) ته ميلاؤيږي او د هُغه (عمل کوونکو) پهٔ خپل ثواب کښې به هم هيڅ کمے نهٔ کيږي او چا چې پهٔ اِسلام کښې بده طريقه اِيجاد کړه نو پهٔ هغهٔ باندې به د هغې ګناه وي او د هغهٔ نه پس چې کوم خلق پهٔ هغې باندې عمل کوي د هغوئي ګناه به هم پهٔ هغهٔ وي او د هغوئي (د عمل کوونکو) پهٔ خپله ګناه کښې به هم څه کمے نهٔ کيږي- [1]

## پهٔ حوض اُلټا رازوړند اِنسان

يو بزرګ تير شوے دے، نوم يې عبدُ الله وو- هغوئي فرمائي: مونږ يو څو کسان د سمندر پهٔ سفر باندې روان شو- پهٔ اِتفاقي توګه د څو ورځو پورې تياره خوره وه، کله چې رڼا شوه نو يو کلے راغلو- عبدُ الله وائي چې زهٔ د اوبو څښلو د پاره د اوبو د لټولو د پاره روان شوم نو د کلي دروازې بندې وې، ما ډير اوازونه اوکړل خو هيڅ جواب رانغلو، پهٔ دې کښې پهٔ آسونو باندې سوارهٔ دوه ګسان رابښکاره شول، هغوئي ووئيل: اے عبدُ الله! دې کوڅې ته داِخل شه نو تا ته به د اوبو يو حوض ميلاؤ شي د هغې نه اوبهٔ وڅښه او د هُغه ځائے منظر چې ووينې نو مهٔ ويريږه- ما د هغوئي نه د هُغه بندو دروازو پهٔ باره کښې پوښتنه اوکړه، پهٔ کومو کښې چې سيلۍ لګيدله، هغوئي ووئيل: دا هُغه کور دے، پهٔ کوم کښې چې د مړو روحونه اوسيږي- بيا زهٔ د حوض خوا له لاړم نو ما وليدل چې يو کَس پهٔ اوبو باندې اُلټا رازوړند دے، هغهٔ پهٔ خپل لاس باندې اوبهٔ راخستل غواړې خو ناکامه کيږي، زهٔ چې يې وليدم نو اواز يې اوکړو: اے عبدُ الله! پهٔ ما اوبهٔ وڅښه- ما لوښے پهٔ اوبو کښې ډوب کړو چې اوبهٔ پرې وڅښم خو چا زما لاس ونيولو، ما هُغه

[1]... مسلم، کتاب العلم، باب من سن سنة حسنة او سيئة...الخ، صفحه:1031، حديث:1017-

زوړند اِنسان ته ووئيل: اے د خُدائے بنده! تا وليدل چې ما د خپل طرف نه کوشش اوکړو چې پهٔ تا اوبهٔ وڅښم خو زما لاس ونيولے شو، تهٔ ما ته خپله واقعه بيان کړه- هغه ووئيل: زهٔ د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام څوي (قابيل) يم، چا چې پهٔ دُنيا کښې د ټولو نه وړومبے قتل کړے-(1)

اَللّٰہُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا د هُغه کَس انجام دے کوم چې بدي شروع کوي او څوک چې د بدئ لارښودونکے جوړ شي يعنې د خپل راتلونکو نسلونو د پاره بدي اِيجاد کړي او لار شي يا د چا پهٔ وجه چې خلق د بدې لارې مسافر جوړ شي، د قيامت پهٔ ورځ باندې به د هغهٔ اَنجام څهٔ وي؟ واورئ! الله پاک فرمائي:

وَ اَمَّا مَنْ اُوْتِیَ كِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ ۙ۬ فَیَقُوْلُ یٰلَیْتَنِیْ لَمْ اُوْتَ كِتٰبِیَهْ ۚ(۲۵) وَ لَمْ اَدْرِ مَا حِسَابِیَهْ ۚ(۲۶) یٰلَیْتَهَا كَانَتِ الْقَاضِیَةَ ۚ(۲۷) مَاۤ اَغْنٰی عَنِّیْ مَالِیَهْ ۚ(۲۸) هَلَكَ عَنِّیْ سُلْطٰنِیَهْ ۚ(۲۹) خُذُوْهُ فَغُلُّوْهُ ۙ(۳۰) ثُمَّ الْجَحِیْمَ صَلُّوْهُ ۙ(۳۱) ثُمَّ فِیْ سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوْهُ ۚ(۳۲) اِنَّهٗ كَانَ لَا یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ الْعَظِیْمِ ۙ(۳۳)

(پاره:29، سورۀ الحاقه:25 33)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او پاتې شو هُغه څوک چا ته به چې د هغهٔ اعمال نامه د هغهٔ پهٔ کينړ [ګځ] لاس کښې ورکولے کيږي نو هغه به وائي: اے کاش چې ما ته زما اعمال نامه نهٔ راکولے کيدے- او ما ته نهٔ وے معلوم چې زما حساب څهٔ دے- اے کاش چې هغه د دُنيا مرګ (زما کار) ختمونکے شوے وے- زما مال زما هيڅ پهٔ کار رانغلو- زما ټول زور ختم شو- (فرښتو ته به حُکم وشي) دا ونيسئ بيا دهٔ ته طوق ورواچوئ- بيا يې لمبې

1... موسوعه ابن ابي الدنيا، کتاب من عاش بعد الموت، جلد:6، صفحه:296، رقم:48-

وهونکي وور ته داخل کړئ- بیا
يــې پهٔ داسې زنځير کښې مضبوط
وتړئ چې د هغې اوږد والے اويا
لاسه دے- بے شکه دهٔ به عظمت
والا الله باندې اِیمان نهٔ راوړلو-

د دې آیتونو لاندې پهٔ **تفسیر قرطبي** کښې دي: دا د بدۍ د لار ښودونکي ذِکر دے (یعني هُغه کَس کوم چې بدې اِیجاد کړه یا چې به د چا پهٔ بدو کارونو باندې عمل کیدلو، دا د هغهٔ حال دے)، هغهٔ ته به د قیامت پهٔ ورځ نوم اخستے کیږي او رابللے کیږي به، هغه به د حساب د پاره وړاندې کیږي، بیا به د هغهٔ پهٔ لاس کښې تکه توره اعمال نامه ورکړے کیږي، پهٔ هغې باندې به پهٔ تور رنګ سره اعمال لیکلے شوي وي، بیا به هغهٔ ته د اعمال نامې د لوستلو حکم ورکولے شي، نو هغه به وړومبے خپلې نیکۍ لوستل شروع کړي، لولي به يــې، لولي به يــې، د دې پورې چې پوهه به شي چې زما سره دومره نیکۍ دي، لهذازهٔ به بخښلے کیږم خو هغه به چې پهٔ نیکو لوستلو لوستلو ښُنګه د اخره پورې ورسیږي نو هلته به لیکلے شوي وي: هٰذِهٖ حَسَنَاتُكَ وَ قَدْ رُدَّتْ عَلَيْكَ دا ستا نیکۍ دي، کومې چې ټول پهٔ ټوله رد کولے شي- دا چې ولولي نو د هغهٔ مخ به تور شي، پهٔ زړهٔ باندې به يــې غم راخور شي، د نیکو نه به مایوسه شي او بیا به هغه د اعمال نامې بل اړخ ته وګوري، هلته به د هغهٔ تش ګناهونه لیکلے شوي وي، هغه به یوه یوه ګناه لولي، پهٔ هغهٔ باندې به پهٔ غم پسې غم راځي، د مخ تور والے به يــې زیاتیږي، کله چې پهٔ لوستلو لوستلو اخرې ته ورسیږي نو لیکلے شوي به وي: هٰذِهٖ سَيِّئَاتُكَ وَ قَدْ ضُوْعِفَتْ عَلَيْكَ دا ستا بدۍ دي، نن به د دې دوه چنده عذاب وي (یعني ستا د بدۍ به هم تا له عذاب درکړے کیږي، بیا چې ستا پهٔ وجه کوم خلک خراب شوي ، د هغوئي ګناهونه به هم ستا پهٔ اعمال نامه کښې اچولے کیږي)، بیا به د هغهٔ سترګې اودې(خومې) شي، مخ به يــې بالکل تور شي، هغه ته

به د تارکولو جامې واغوستے شي، بيا به حکم وشي: لاړ شه! هُغه خلق کوم چې پهٔ تا پسې (پهٔ بده لاره باندې) روان وو، هغوئي ته خپل اَنجام وښايه- بيا به دے د خپلو منونکو خوا له لاړ شي او وائي به: هى هى! کاش چې ما له زما اعمال نامه نهٔ راکړے کيدے، کاش چې ما ته نهٔ معلوميدے چې حِساب څهٔ وي، کاش چې مرګ زما کار ختم کړے وے---!! (1)

اَللهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا دے د بدۍ د لار ښودونکي اَنجام، هُغه اِنسان کوم چې پخپله خو خراب وو، د دې سره سره به يې نور هم پهٔ ځان پسې روانول، د ځان سره به يې پهٔ ګناه کښې شريکول، د چا نسلونه چې د هغهٔ پهٔ وجه پهٔ ګناهونو کښې اخته شوي وي، د قيامت پهٔ ورځ به د هغهٔ د پاره پهٔ غم پسې غم وي او د هغهٔ مخ به بالکل تک تور شي- ځکه پهٔ مونږ باندې دا لازم دي چې د ګناهونو نه ځان وساتو، د ګناهونو نه خو يو د دې د پاره ځان وساتو چې دا د الله پاک نافرماني ده، دويم دا غور هم اوکړو چې نن زمونږ اِختيار کړے شوي ګناه سبا زمونږ د نسلونو پورې هم رسيدے شي، که خپلو نسلونو ته ګناه او بد کارونه پهٔ ميراث کښې پريږدو نو يقين اوکړئ چې ❀ پهٔ قبر ❀ حشر ❀ ميزان او ❀ پل صراط باندې به د ډيرو سختو سره مخ شو- الله پاک دې مونږ د دې افت نه بچ کړي، کاش چې مونږ د بدۍ او د ګناهونو د سبب جوړيدو پهٔ ځائے، د نيکۍ دعوت جوړيدونکي جوړ شو، د ښه ښه کارونو کوونکي جوړ شو، د دِين خِدمت کوونکي جوړ شو، کاش چې مونږ د نيکو خورونکي او د ګناهونو نه ځان او نور بچ کوونکي جوړ شو-

| | |
|---|---|
| حُبِّ دُنیا میں دل پھنس گیا ہے | نَفسِ بدکار حاوِی ہوا ہے |
| ہائے شیطاں بھی پیچھے پڑا ہے | یاخدا! تجھ سے میری دُعا ہے |

1…تفسير قرطبي، پاره:29، سورهٔ حاقة، زيرِ آيت:24، جلد:9، صفحه:172-

| | |
|---|---|
| نارِ دوزخ سے مجھ کو اَماں دے<br>نیک بن جاؤں جی چاہتا ہے | مغفرت کر کے باغِ جِناں دے<br>یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے[1] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (3): د دِین پهٔ بدل کښې دُنیا مهٔ اخلئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د آیت مبارک نه درېم سبق کوم چې د زدکړې د پاره میلاؤ شو، هغه دا چې د دِین د پاره که دُنیا پرېښودے کیږي نو هیڅ باک نشته، البته د دُنیا د پاره دِین پرېښودل، ډېره محرومي ده- هم دا خبره ده کومه چې الله پاک د بني اِسرائیلو عالمانو ته فرمائیلې ده، ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰیٰتِیْ ثَمَنًا قَلِیْلًا ۫<br>(پاره: 1، سورۃ البقرۃ: 41) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او زما د آیتونو پهٔ بدله کښې لږ نرخ [قیمت] مهٔ وصولوئ- |

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہِ پهٔ دې ځائے کښې ډېره د کمال یوه نکته بیان کړې ده، زهٔ یې لږ په اسانتیا سره عرض کووم، فرمائي: دُنیا ګویا پیسې دي ، د مثال پهٔ توګه چې یو د 100 روپو نوټ دے او اخرت ګویا چې قیمتي سامان دے- قاعده دا ده چې د 100 روپو د نوټ ځپله هیڅ اهمیت نشته، نهٔ دا خوړلے شي، نهٔ دا اغوستے شي، نهٔ پهٔ دې باندې تنده ماتولے شي- آؤ! د دې 100 روپو پهٔ نوټ لګولو خوراک هم اخستے کیدے شي، اوبهٔ هم حاصلولے کیدے شي- بالکل هم دغه شان دا دُنیا د اخرت کښت [یعني پټے] دے، کوم اِنسان چې د دې دُنیا پهٔ ذریعه اخرت ګټي، هغه ډېر عقلمند دے او کوم بے عقله چې د اخرت پهٔ بدل دُنیا ګټي، هغه ډېر نادان دے ولې چې دُنیا به ډېره زر ختمه شي، بیا به د هغهٔ د پاره د همیشه محرومي

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:135134 ملتقطًا-

پاتې شي- ځکه مونږ له پکار دي چې دُنیا د اخرت د بهتر کولو ذریعه جوړه کړو، داسې نهٔ وي چې د دُنیا د پاره دِین پریږدو ❁ د یو څو روپو د پاره ❁ د یو مالداره ملک د ویزې اخستو د پاره ❁ د دې دُنیا د عارضي ارام د پاره مونږ خپل اخرت پهٔ داؤ ولګوو- څوک چې داسې کوي، هغه بے عقله هم دے، نادان هم دے او پهٔ اخرت کښې به د سختې محرومۍ او د ارمان سره هم مخ کیږي-[1]

ځکه خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اخرت ته پهٔ دُنیا باندې د ترجیح ورکولو عادت جوړ کړئ! ❁ دکان ته د ګاهک د راتلو وخت دے، بل خوا اذان هم کیږي نو د یو څو روپو د پاره د نـمونځ سودا مهٔ کوئ! بلکې د نـمونځ د پاره دُنیا پریږدئ! ❁ که فرض وي نو د دُنیا د لالچ د پاره زکوٰة مهٔ اِیساروئ! بلکې پهٔ اخرت کښې د عذاب نه د بچ کیدو د پاره پوره پوره زکوٰة ادا کړئ! ❁ د دُنیا د لالچ پهٔ وجه، پهٔ حرص کښې پهٔ راتلو د سود لین دین مهٔ کوئ! ❁ د دُنیا د ارام او سکون د پاره، د یو څو ورځو د عیش د پاره مور او پلار مهٔ تنګوئ! هغوئي اولډ هاؤس ته مهٔ لیږئ! بلکې پهٔ اخرت کښې د کامیابۍ د پاره د مور او پلار خدمت اوکړئ! بس مقصد دا چې د دُنیا د پاره د دِین، شریعت، د اللّٰه او د رسول صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حکمونو نه مخ مهٔ اړوئ! بلکې د دِین د پاره که د دُنیا قرباني ورکول وي نو پهٔ خندا خوشحالۍ یې ورکړئ!

## د اِنسان نه سویا ښنګه جوړه شوه---؟

حضرت عثمان بن عبد اللّٰه رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: یو کَس د حضرت موسیٰ کلیم اللّٰه عَلَیْہِ السَّلَام پهٔ خدمت مبارک کښې پاتې کیدو او عِلمِ دِین یې زده کولو- یو ځل هغهٔ د حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام نه خپلې علاقې ته د واپس تللو اِجازت وغوښتو او وه یـې وئیل: زهٔ به ډیر زر واپس حاضر شم- حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام هغهٔ له اجازت ورکړو- هغه لاړو او پهٔ خپله

---

[1]... تفسیر نعیمی، پاره:1، سورۂ بقرة، زیر آیت:41، جلد:1، صفحه:333 مفصلاً-

علاقه کښې يې خلقو ته وئيل: **حضرت سَيِّدُنا موسیٰ** عَلَيْهِ السَّلَام **دا فرمائيلي دي، حضرت موسیٰ** عَلَيْهِ السَّلَام **ما ته دا خبرې کړې ده-** په داسې قِسمه خبرو کولو به هغۀ د خلقو نه مال اخستو- خلقو به هغه حضرت سَيِّدُنا موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته نزدې ګڼلو او د هغۀ عزت به يې کولو او هغۀ له به يې خپل مال او دولت ورکولو- هغه به ډېر خوشحاليدو او ځائے په ځائے به وئيل چې ما د حضرت سَيِّدُنا موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام نه دا اوريدلي دي- غرض دا چې داسې هغه ډېر مال جمع کړو او واپس لاړو او د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت کښې حاضر نۀ شو- د ډېرو ورځو تيريدو باوجود چې کله هغه په خِدمت کښې حاضر نۀ شو نو حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د خلقو نه د هغۀ په باره کښې پوښتنه اوکړه خو چا ته د هغۀ څۀ معلومات نۀ وو چې هغه اوس چرته دے؟ يوه ورځ حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام په يو ځائے کښې تشريف فرما وو چې يو باندچې کَس په لاړ تيريدلو هغۀ رسۍ تړلې يوه سويا په خپله غاړه رازوړنده کړې وه- حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د هغۀ نه پوښتنه اوکړه: اے د الله پاک بنده! تۀ د چرته نۀ راغلې؟ عرض يې اوکړو: د فلانکي کَلي نه- وه يې فرمائيل: آيا تۀ فلانکے کَس پيژنې، کوم چې زما نه عِلمِ دِين زده کړے وو؟ باندچې په خپله غاړه د رازوړندې سويې طرف ته اِشاره اوکړه او وه يې وئيل: هُم دا هُغه کَس دے د چا په باره کښې چې تاسو عَلَيْهِ السَّلَام پوښتنه کوئ- الله ربُّ العزَّت د هغۀ نه سويا جوړه کړې ده- د هغۀ په باره کښې په حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام باندې وحې نازله شوه، الله پاک وفرمائيل: اے موسیٰ (عَلَيْهِ السَّلَام)! د دۀ نه ما ځناور ځکه جوړ کړے دے چې دۀ به د دِين په ذريعه د دُنيا سپک دولت غوښتو-[(1)]

اَللّٰهُ اَكْبَرُ! دا دے د دُنيا د پاره د دِين د خرخوونکي خراب انجام---!! الله پاک دې مونږ محفوظ کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... تاريخ ابن عساکر، رقم: 7741، موسیٰ بن عمران، جلد: 61، صفحه: 152-

# یو اَهم وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دلته یو اهم وضاحت کووم چې ❀ پهٔ تنخوا اخستو اذان کول، نـمونځونه او د جُمعې جَمعه ورکول ❀ پهٔ تنخوا اخستو ماشومانو ته قرآنِ پاک ښودل وغیره دِین خرخول نهٔ دي، د دې اُجرت شریعت اِجازت ورکړے دے، هسې چې هم څوک پهٔ تنخوا د جُمعې جَمعه ورکوي، اذانونه کوي او قرآنِ کریم ښائي، هغوئي د قرآنِ پاک د ښودلو یا د جَمعې ورکولو نهٔ بلکې هغه چې کوم وخت ورکوي، د هُغه وخت قیمت اخلي- ځکه دا د دُنیا د پاره دِین خرخول نهٔ دي- الله پاک دې مونږ ته پهٔ دِین باندې د دُنیا نهٔ بلکې پهٔ دُنیا باندې دِین له د ترجیح ورکولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِیْنْ بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

# القرآن الکریم ایپلي کیشن

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې : ***Quran Al kareem*** (القرآن الکریم ) دے- پهٔ دې ایپلي کیشن کښې ❀ د پوره قرآنِ پاک لوستلو او ❀ د مختلفو قاریانو پهٔ اوازونو کښې د قرآنِ پاک اوریدلو سهولت موجود دے ❀ دې سره سره یو خاص سورت یا آیت ***Bookmark*** کیدے هم شي یعني بیا بیا لوستونکے سورت یا آیت د ***Bookmark*** کیدو سره پهٔ اسانۍ سره لوستلے کیدے شي- اوسه پورې تقریباً د لسو لاکو نه زیاتو کسانو دا ایپلي کیشن ډاؤن لوډ کړے دے- تاسو هم دا ایپلي کیشن پهٔ خپل موبائل کښې انسټال کړئ، پخپله تربنه هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغیب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان پهٔ اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحيح څهٔ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پهٔ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پهٔ ګوته کول)

**مسئله:** که د فصل خرچې د پيداوار نه زياتې شوې نو بيا به هم عُشر واجِب وي۔

**وضاحت:** عُشر د زمکې د پيداوار زکوٰة دے۔ نن سبا د غنمو لَوونه شروع دي، څوک چې زميدار دي يا د چا چا چې فصلونه دي، پهٔ هغوئي باندې لازم دي چې د فصلونو زکوٰة ضرور ادا کړي۔ بعضې وخت پهٔ ذهنونو کښې خيال راځي چې ګراني ډيره ده، دومره پيداوار نهٔ کيږي لکه څومره چې پرې خرچه راځي،لهذا اوس به هم عُشر لازم وي او که نهٔ؟ مسئله واورئ! ❁ که فصل کم وشي او که ډير، چا ته چې الله پاک فصل عطا کړے دے، پهٔ هغهٔ باندې د هغه فصل لسمه حصه يعنې عُشر د الله پاک پهٔ لاره کښې ورکول لازمي دي ❁ دا هم ياد ساتئ چې عُشر چې کوم دے دا د خرچې ويستو نه بغير پهٔ ټول پيداوار باندې وي، مثلاً غنم مو وريبل، اوس چې څومره غنم وشول، د دې ټولو لسمه حصه عُشر ادا کول دي، د دې نه به خرچې نهٔ شي لرې کولے ❁ دا خبره هم ياده ساتئ چې د عُشر د ويستو نه مخکښې د فصل اِستعمال حلال نهٔ دے۔ (1)

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پهٔ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1] ... دارالافتاء اہل سنت، فتوی نمبر:Nor12895۔

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

یَامُتَعَالِی (اے د ټولو نه اوچت او بالا)

پهٔ سختو کارونو کښې یَامُتَعَالِی زیات لوستل بے حده فائده مند دي-[1]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]... مدنی پنج سوره، صفحه:256۔